# فاتح ملا سنګین




Ketabton.com

کال ------------------------------------------------------------------------------------------------ ۱۴۰۴ه ش

د شهید ملا سنګین فاتح ژوند ته لنډه کتنه

حث دی چې تر ډېره

ی د شهید مولوي
ري چې د راتلونکي

س وي.

ی کلونه وروسته هم

یا، وفادارۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب نوم : د ملا سنګین فاتح ژوند ته لنډه کتنه.

لیکوال : اسامه احمدزی.

د خپرونې ډول : شخصي خپرونه.

کال : ۱۴۰۴ ه ش

د اړیکې شمیره : ۰۷۳۱۲۳۳۷۶۱

ددې کتاب هیڅ برخه نشي چاپ کیدای پرته د لیکوال له لیکلې اجازې څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مقدمه**

د لوی څښتن تعالی څخه ډېر شکر ګزار یم چې ماته يې دا توفيق راکړ ترڅو د اسلام ددين د يو قهرمان ژوند ته لنډه کتنه وکړم او تر نورو مسلمانانو يې ورسوم.

په ژوند کې داسې انسانان شته چې د غرونو په شان درانه وي، د باد په شان آزاد، او د لمريزو وړانګو په شان رڼا خپروونکي.

دا کتاب د يوه داسې انسان د ژوند او مبارزې کيسه ده، چې نوم يې "سنګين" دی يو زړور، باتوره، او باوقاره قهرمان چې وجود يې د صداقت، وفادارۍ او ميړانې سره تړلی دی.

سنګين يوازې يو نوم نه دی، بلکې يو درس دی، يوه تجربه ده، يو پيغام دی. هغه د هغو کسانو له جملې څخه دی چې د ستونزو پر وړاندې د تسليمېدو پر ځای، ترې پياوړی راوتلی دی. د ژوند له سختو څپو سره يې مبارزه کړې، خو هيڅکله يې خپل مسير نه دی بدل کړی.

ما د يو محصل په توګه، دا کتاب د يو شخصي احساس، مشاهدې او مينې پر بنسټ ليکلی دی. دا يوازې د سنګين د ژوند کيسه نه ده، بلکې د هغه ټولو قهرمانانو کيسه هم ده، چې شايد نومونه يې هېر شوي وي، خو کارنامې يې د وخت په پاڼو کې ژوندی پاتې دي.

دا کتاب زه د زړه له تله دکورنيوچارو وزير خليفه صاحب سراج الدين حقاني حافظ بلال، او د سنګين ټولې محترمې کورنۍ ته ډالۍ کوم.

او هيله مند يم چې تر هغوی پورې ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۲۰۰۱م کال کې چې کله امريکا پر افغانستان بريد وکړ او امارت ړنګ او وپاشل شو. سنګين په ميرانشاه کې پر زده کړو بوخت وو.د دوی کورني د روسي تالاک څخه وار دمخه هغلته کوچيدلې وه.

د زيړوک ولسوالۍ د همدغه ځوان شپې او ورځې د مولوي جلال الدين حقاني په مدرسه،منبع العلوم کې يوازې له کتابونو سره تېرېدلې.

امريکايانو چې دافغانانو پر ودونو او جنازو د خپلې بمبارۍ جنايت ته زور ورکړ په هغه زړونو کې ددفاعي مبارزې ولولې غښتلې کيدې چې د خاورې،خلکو او د خدای (ج) د دين د حفاظت احساس پکې موجود وو.

که څه هم لاسونه يې تش وو خو زړونه يې د مبارزې له قوت څخه خالي نه وو. په ۲۰۰۲م کال کې مجاهدين په داسې انفرادي ډول په حرکت راغلل دوی هغه مرجع کتلې چې دجهاد انتظام له کوم ځای څخه کيږي. جلال الدين حقاني (رح) ټولو خلکوته معلوم وو چې د يرغلګرو په خلاف باندې غرونو ته ختلی دی. مولوي سنګين او يو بل ملګری يې له يوې مدرسې څخه هغلته ورغلل دا مهال خليفه سراج الدين حقاني حفظه الله هم په مدرسه کې وو. نو مولوي سنګين ورته وويل چې د انګريزانو په مقابل کې جهاد کوو يو څود BM12 مزاييلو ته ضرورت لرو. خليفه صاحب بيا دا مزاييل ورته پيدا او يو څو نقطې د امريکايانو چې په پکتيکا کې موجودې وې هغلته ولېږل.

هغه مهال د مولوي سنګين والد صاحب په مکين کې د رختونو دوکان درلوده کله چې ملا رحيم الله عمري مکين ته لاړ نو هغلته ملګرو ورته وويل چې ستاسې د مولوي سنګين والد صاحب دلته دوکان لري او کور يې هم همدلته دی. نو يوه ورځ ملا رحيم الله عمري سره له يو څو ملګرو د مولوي سنګين د پلار دوکان ته ورغلل او دمولوي سنګين والد صاحب ډېر زيات خوشحاله شو او ددوی قدرداني يې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مهال مولوي سنګين په تشکيل کې وو. کله چې له تشکيل څخه راغی او ملا رحيم الله له نږدې څخه ملاقات ورسره وکړ نو په ژوند کې يې يو بدلون راغی او له مولوي سنګين سره د جهاد ملګری شو.

مولوي سنګين ډېر پوه انسان وو کولای يې شول چې اختلافات له منځه يوسي او مجاهدينو ته قناعت ورکړي.



د مشکلاتو پر مهال به يې د يو څو نفرانو کمېټه جوړوله ورته ويل به يې چې خپل منځ کې يې حل کړئ يا هم د سيمې ملاصاحب ته مراجعه وکړئ چې اختلافات مو حل کړي. که بيا هم اختلافات نه حل کيدل نو خليفه صاحب سراج الدين حقاني ته به يې مراجعه کوله او د مشکلاتو د حل مشوره به يې ورڅخه غوښتله.

د اختلافاتو او منازعو په حل کې دغه طالب العلم زلمی په لومړيو کې په ميرانشاه کې د حکيم خان په نامه د بدماشې ډلې سره د خلکو په سر جنجال ته ولويد او بيا دا جنجال لوی شو.

دغه بدماشانو به له ځايي خلکو باج اخيسته او شوکې به يې کولې او په بازار کې به يې تر سرعام ضربه يي ډزونو وروسته ويشتل شوي کسان ليدل چې څو دي.

دې ډلې يوه ورځ د مولوي سنګين دوه کسان وويشتل او ملا صاحب يې ټپي کړ.

دا جګړه وروسته د همدې ډلې د دوه ويشت کسانو په له منځه تلو پای ته ورسيده.

مولوي سنګين د حکيم خان په نامه د خون خوارې ډلې تر ختمولو وروسته په ميرانشاه کې ډېر زر مشهور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





خلک ترې راتاو شول او هغلته پراته مسعودو او وزيرو هم د ملګرتيا لاسونه ور وغځول.

د مولوي سنګين د ورور په وينا : ډېرو مجاهدينو به د حکيم خان باندې له بدماشانو څخه شکايتونه کول چې دغه بدماشان موږ ته ډېرې ستونزې او خنډونه جوړوي. د دوی سره خبرې وکړئ چې په ښه وضعيت باندې دا خلک اصلاح شي او د اصلاح په بنياد خبرې ورسره وکړئ.

خو هغه خبره بدماشانو نه منله بدماشي به يی کوله،ظلم به يې کوو.

مولوي سنګين خپلو مجاهدينو ته امر وکړ چې راشي ترڅو موږ دا خپل مجاهدين هم په حفاظت کې کړو او د دوی سره هم جنګ وکړو چې ختم شي.

د خلکو په زړونو کې جذبه پيدا شوه ټول مجاهدين شول او هغه بدماشان يې ختم کړل.

د مولوي احمدعلي جان په وينا : په سنګين مولوي صاحب کې هر ډول خاصيت و.سنګين مولوي صاحب دښمن ته هم د پوهې او سياسی لحاظه مهم و.هم په نظامي لحاظ ورته مهم و. او هم په اجتماعي لحاظ ورته مهم و.

يعنی سنګين مولوي صاحب داسې سړی نه و چې په سياست نه پوهيده،په مجلس نه پوهيده،په خبره نه پوهيده،د دنيا په حالاتو نه پوهيده،د کافرو په چلونواو پلانونو نه پوهيده. په دې ټولو زه عقيده لرم چې دی بلکل په هر څه پوهيده.

همدارنګه سنګين مولوي صاحب په نظامي لحاظ باندې داسې څوک و.چې څومره بدماشان د امريکايانو او ناټو په چوکاټ کې راغلي وو هغه ټول د سنګين مولوي صاحب له خوا مات کړی شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library





دغه طالب العلم زلمی ورو ورو د مسلح طالب ښه غوره کوله.د افغانستان په جنوب ختيځه حوزه کې د حقاني کورنۍ له خوا د تنظيم کيدونکو جبهاتو د نظامي وظيفو په لړ کې مولو سنګين ته لومړی د خوست بيا د پکتيکا نظامي مسوليتونه ور وسپارل شول.

هغه ډېر زر په دغه سيمو کې د جګړې توازن بدل کړ.افغان عسکروته يې په مخابره کې د هغوی په افغاني غرور اعتراف کوو خو دا چې د ده په نظر په غلط صف کې ولاړ وو د راوتلو د توصيې غاړې به يې ورباندې خلاصولې.



د مولوي سنګين خبرې همدا مهال : الو د کمپاين ملګري که اوري زه مولوي صاحب سنګين يم. هرڅوک چې په خوړې تسليميږي راودی وځي هغوی ته به امن وي افغانانو ته امن دی.انګريزان دې پريږدي.

خو افسوس چې مولوي صاحب بيرته منفي جواب اوري او مقابل طرف زما يو افغان ښکنځل ورته کوي . نو مولوي صاحب بيا وايي بلکيه افغانی يې زياړې ( ښکنځل ) مکوه ګناهکار کيږې او آخرت دې خرابيږي. په دا خو زه هم پوهيږم چې افغانی يې او غيرت لرې. خو آخرت دې خرابيږي بلکای (بچای).

چې مړ شې آخرت دې خرابيږي نو څه معني. خو که په اسلام باندې مړ شې نو د آخرت ګټه دې ده نو له همدې امله راووزی امن دی درته.

خو بيا هم منفی جواب اوری او مولوي سنګين مجبوريږي چې بريد پيل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مولوي سنګین د زړورتیا په اړه ملا رحیم الله عمري وايي : ډېرو ځایونو کې یې دښمن خبر کړی ده.

کوم ځای کې به چې سخت دښمن وو نو هغوی ته به یې احوال ور ولیږه چې زه دربانديږ درځم نو تاسې چې څومره تیاری نیوی شی ځان تیار کړی. خو بیا هم انشاالله فتح زموږ ده.(مجاهدین)

په دغه کې د مولوی سنګین یو مشهور جنګ د ګیانو جنګ ده چې دښمن له مخکې څخه خبر و.



د مولوي سنګین والد صاحب

خو مولوي صاحب بیا هم په شا نشو.او الحمدلله الله پاک ډېره ښه فتح ورکړه.

مولوي سنګین پر افغانستان د روسانوتر یرغل پنځه کاله وړاندې په ۱۳۵۳ه ش کال کې وزیږیده. لږ چې غټ او د مدرسې شو پلار یې حاجي مرسلین (رح) مدرسې ته ولیږه او خپله به هم د سبق تر ځای ورسره تلو.



د مولوي سنګین د ورور په وینا : شهید مولوي سنګین په ماشومتوب کې هم ډېر شوخ وو.

پلار به هم مدرسې ته سم ورسره روان و.استادان به یې ورته خبر کړل چې زما زوی چې شوخي کوله پام ورباندې کوئ.چې سبق ووايي او نیک سړی ورڅخه ستر شي.

همداسي و شول چې خدای پاک یو ښه عالم ورڅخه جوړ کړ.یو جهادي لیډر شو او خدای پاک ډېر د دین خدمت ورڅخه واخیست.

د حاجي مرسلین دغه شوخ زوی مشر زوی و.او ډېر ورباندې ګران و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی شو او سړی  ترې جوړ شو.  اوس نو د جنګونو د سر سړی ترې جوړ شوی وو.یوه ورځ یو ځای د دوی د راجمع کېدو ځای ته څیرمه بمبار وشو حاجي مرسلین فکر وکړ چې زوی یې پکې شهید شو. خوداسې نه و یو بل مجاهد چې د شمس الحق په نامه و د مولوی سنګین په څیرلباس یې کړی وو  هغسې لونګی یې وهلې وه اوډیرورته و  هغه شهید شو.

کله چې د مولوی سنګین والد صاحب د بمبار څخه خبر شو او وایی اوریدل چې زوی یې شهید شوی ده نو ډیر فشار ورباندې راغی او مریض شو چې یو څو ورځې وروسته وفات شو. اناالله و انا الیه راجعون.

د ملا سنګین کورني د روسانو سره تر جهاد وروسته ورو ورو اوس د امریکایانوسره د راخیستل شوې مقابلې سره روږدې کیده.

کله چې د دوی جبهو د امریکایانو پر خلاف جبه یي بڼه ونیوله د خطر راګرځیدلې دایره زر زر  ورباندې را تنګېده.

د مولوي احمد طه په وینا : مولوي صاحب سنګین د پکتیکا ولایت د زیړوک ولسوالۍ د تنګي د سیمې اوسیدونکی او په یوه جهادي کورنۍ کې پیداشوی.

په داسې کورنۍ کې چې هغوی د روسانو د مقاومت په مقابل کې کله چې روسانو افغانستات اشغال کړی و ډېر بهترین جهاد یې پرمخ بوولی ده.او د اشغالګرو په مقابل کې لومړنی اساسي او بنیادي مجاهد په پکتیکا ولایت کې مولوی صاحب سنګین و.



د خالد ځدراڼ په وینا : داسې نه وه چې د مولوي صاحب سنګین فامیل د خطرونوپه مقابل کې محفوظ و.څومره سختي او تکلیفونه چې مولوي صاحب سنګین ګالل کورنۍ یې هم همدومره تکلیفونه ورسره ګالل. کله به چې مولوي صاحب په غرونو کې وو د کورنۍ ټول غړي او فامیل به ورسره وو او په غره کې به یې مزلونه ورسره کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغلته به اوسیدل ټول یوځای و. خطر ټولې کورنۍ ته متوجه و یوازې مولوي صاحب ته نه وو متوجه.

هر ډول تکلیف چې په مولوي صاحب وو هغه تکلیف به یې په کورنۍ او ماشومانو باندې هم و.

مولوي سنګین په ۲۰۰۹م کال کې امریکایانو لپاره لا مهم شو هغه مهال چې تر لاس لاندې کسانو یې په پکتیکا کې یو امریکایي عسکر ژوندی ونیوه.

امریکا مولوي صاحب تور لیست ته واچوو او ۵۰۰۰۰۰۰ (۵میلیونه) ډالره جایزه ورباندې اعلان شوه.

د پکتیکا په یوسف خیلو ولسوالۍ کې د قاري اسماعیل د ډلې یو کس مولوي عرفان د کوچیانو په مرسته لومړی نیول شوی نظامي امریکایی عسکر (بو برګډال) ډیر زر مولوي سنګین ته ور ورساوه.

خو دا خبره اسانه نه وه امریکایانو پرله پسې چاپې شروع کړې. او سیمه په ربښتیا د اور لاندې ونیول شوه خلک شهیدان شول کورونه لوټې لوټې او شنې ونې لوګی لوګی شوې.

خو د ورک شوي امریکایی د پله پته نشوای لګیدای.برګډال داسې وخت ونیول شو چې مولوي سنګین په پکتیکا کې په نظامي فعالیتونو بوخت و.

د خلیفه صاحب سراج الدین حقاني په وینا : د برګډال په تالاشي کې ډېر زیات فشار امریکایانو راووړ.په ډېرو منطقو کې یې د مجاهدینو کورونه خراب کړل او خلک یې شهیدان کړل.

مولوي صاحب به برګډال له خپل ځان سره ساته تر ډېره موده پورې ورسره و. ددې له امله چې بیغوري پکې ونشي.

د ګونتانامو ټول امیدونه او ارادې مولوی سنګین د همدې برګډال په واسطه ورماتې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي سنګين په هيڅ قيمت برګډال له لاسه نه ورکوو ويل يې چې بايد دا له ماسره وي. امريکايی خونخوارې الوتکې داسې مهال هم کښې او ړندې تاويږي چې مولوی سنګين د پکتيکا په يوه ځنګل کې برګډال ته د افغانانو د تاريخ څخه د عبرت اخيستلو تبصرې کوي.



خو برګډال په پښتو نه پوهيږي او مولوي صاحب سنګين بيا په وزيرستانی لهجه ورته وايي چې

**بلکايه پښتو زده که پښتو ته به خامخا پښتو زده کوې چې افغانستان ته روغلی يې.**

دا مهال د پکتيکا ځنګلي ونو د مولوی صاحب پر سر لاسونه نيولي او د امريکا له الوتکو يې پټ ساتي.

مولوي سنګين ته د خطر د کچې تر زياتيدو وروسته خليفه صاحب سراج الدين حقاني توصيې راوليږلي.هغه پر توصيو د عمل کولو سره سره بيا هم خپلې رواني چارې ټکنۍ نکړلې.يوازې دومره وو چې لارې او طريقې يې نوې کړې.

د ملا رحيم الله عمري په وينا : خليفه صاحب به ډيره توصيه ورته کوله چې ډير احتياط وکړي او عامو ملاقاتونو څخه ځان وساتي. حالات ډير سخت دي ځکه چې هغه وخت به په فضاءکې د لسو څخه تر پنځلسو ډرون الوتکې هميشه شپه او ورځ ګرځيدلې.او هره ورځ به يې تقريبا دوه يا درې بمبارونه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکثره مشرانو همدا توصیه وه ورته چې احتیاط وکړي خو مولوي صاحب به ویل چې ما د مجاهدینو تکلیفونه مجبور کړي ترڅو زه راووځم.

مولوي محمد نبې عمري د هغه پنځه زندانیانو له جملې څخه دی چې له ګونتانامو څخه د برګډال پر سر تبادله کې تر څه کم دیارلس کاله بند وروسته راخوشې کړای شو.

یوه ورځ د مولوي عمري زوی د خپل کور مخې ته د خپل بندي پلار د سوچونو ویر اخیستی وو چې مولوی سنګین وربانديې راپیښ شو په پوښتنه پوښتنه کې د حال تر پوهېدو وروسته ورته وایي چې مه خفه کېږه پلار دې راخلاصوم. بیا همداسي وشول.



د مولوي عمري په وینا : ماته خپل زوی ویل چې په برګډال ډېرکوشش دا و چې یایې څوک مړ کړي او یایې څوک د پیسو په بدل معامله کړي. مولوی سنګین ته هم څو وارې دا خبرونه رسیدلي وو.چې د برګډال د خوشې کولو په مقابل کې به امریکایان ډېرې پیسې درکړي که تاسي داسې کار وکړ.زما زوی راته ویل چې یوه ورځ مولوي صاحب زموږ کور ته راغلی و او زما په اوږه یې لاس راکېښوده او راته ویل یې چې ترڅو مې دوی وربانديې راخلاص کړي نه وي تر هغو به زه دا بندي نه چاته ورکړم، نه به یې خرڅ کړم او نه به یې مړ کړم.






د برګډال پر سر یوازې دا پنځه کسان راخلاص نشول بلکې امریکا په قطر کې د دفتر خلاصولو او مذاکراتو لپاره غاړه دهغه پر سر دخبرو لپاره کیښوده. خو د برګډال ساتل د اوسپنې د نینو دچیچلو په څېر وو چې مولوی سنګین دا نینې درې کاله یوازې په خپل کور کې وچیچلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خالد ځدراڼ په وينا : د برګډال په سر باندې مولوي صاحب ډېر تکليفونه تېر کړل ځکه برګډال هغه عسکر وو چې د هغه پر سر امريکايانو هرډول امکانات وکارول ترڅو يايې ووژني او يايې په يوه چاپه کې ژوندی بيرته ترلاسه کړي. خو مولوي صاحب دا درې کاله د برګډال سره داسې وو لکه په اور کې چې وي.که څه هم مولوی صاحب خپله هم په تور ليست کې و امريکايانو کوشش کوو چې شهيد يې کړي. خو د برګډال نيول د هغه پالنه او ساتنه د مولوي صاحب لپاره نور هم خطر زيات کړ.

د مولوي صاحب د يو ملګري او قوماندان شهيد اختر زمان زوی چې له هغه سره د سنګر ملګری و د هغه تعهد يو مثال و چې د مولوي سنګين جهادي ملګري يې برياليتوبونو ته ورنږدې کول.

د امير زمان سيلاب په وينا : موږ او مولوي سنګين د تعرض ترتيب برابر کړ ما هغه مهال دوهمه کوژده د سنګر په وخت کې کړې وه هغه وخت کې زما درې لورګانې وې ملګرو به راته ويل چې د مرګ او ژوند پته نه لګيږي يوه بله کوژده هم وکه چې يو زوی دې پيداشي داسې نه وي چې شهيد شي بيخي دروازې به دې رابندې شي.

نو مولوی صاحب تعرض جوړ وو موږ تعرضو ته ملګري سره تقسيمول په دغه وخت کې يو ملګري مولوي صاحب ته وويل چې سيلاب که پاتې شي ځکه درې ورځې يې کيږي چې نوې کوژده يې کړې ده.نو مولوي صاحب ټولو ملګرو ته وويل چې د دغې د نيا له ښځو بايد موږ او تاسې تير شو. موږ او تاسې بايد په دين باندې غيرت وکړو. دا دوه ورځې ژوند ده دا ښځې او اولادونه ټول رانه پاتې کيږي.نو ما ورته وويل چې مولوي صاحب ستا چې کوم امر وي موږ شپه او ورځ ورته تيار يو موږ د بچيانو څخه، ښځې څخه له هر څه څخه د الله (ج) ددين د ساتنې لپاره تېر يو او د اسلام لپاره مو هرڅه قربان کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





مولوي سنګین نور نو چې په ګرمو جګړو کې د خپلو ملګرو په مورال بدل شوی وو په علمي لحاظ یې هغوی ته په دین د سر خلاصی او افغاني ننګ درسونه هم ورکول.

دا مهال مولوي سنګین وایي : جهاد کې تکلیفونه شته او ښه زیات تکلیفونه شته خدای پاک ویلي دي چې جهاد فرض دی.

جهاد ډېر تریخ دی بعضې وخت سفر،لوږې او ژورې پکې راځي ځکه چې کله به څوک پیداکیږي او کله به نه پیداکیږي. خو خدای پاک ویلي دي چې جهاد کې ستاسو لپاره خیر دی. خیر ځکه دی چې آخرت به دې ښه وي د مسلمانانو بچ کول او د کافرو له صحنې څخه ویستل دي. څومره خلک چې پاتې شي دا خلک به د کافرو له قبضې څخه بهر شي.کافر به شکست و خورې او له دې لارې څخه به اسلام ته خیر ورسیږي.

حافظ محب الله تبسم وایي : مولوی صاحب یو ډېر زړور انسان و داسې زړور مجاهد ما په خپله سیمه کې هیڅ نده لیدلی لکه مولوي صاحب. یوه ورځ موږ په یو ځای باندې تعرض وکړ زه او مولوي صاحب ناست وو نو ډېر سخت تعرض مو وکړ خو تعرض ناکام شو. ناکام په دې خاطر شو چې په هغه طرف کې لومړي هلیکوپټر ګرځیدل کله چې موږ تعرض شروع کړ نو هلیکوپټر راورسیدل سره له جیټو نو موږ سره ولاړ وو او نور مجاهدین هم راغلل سره یوځای شوو دا مهال جیټې پر موږ راتیټې شوې څومره طالبان چې وو ټول څملاستل خو ماچې ولیدل مولوی صاحب هغسې ولاړ و.

امیر زمان بیانوي چې موږ به کله تعرض ته روان شوو نو د مولوي صاحب ضمیر به دا نه منله چې پاتې شي نو هغه به هم زموږ سره لاړ او یو جګ ځای کې به راته کیناسته موږ ته به یې قومانده راکوله کله به چې موږ د مولوي صاحب غږ واوریده موږ به داسې په کمپاین ورننه وتلو لکه زمریان.

په پکتیکا کې په امریکایي کمپونو تعرضونه نور د دوی همیشني کارونه وګرځیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې جګړو کې که امریکایي ښکیلاک په سرخوړي اړول شوی وو خو د مجاهدینو قرباني هم کمې نه وې.

ملا رحیم الله عمرې وایې : په یوه تعرض کې موږ ته د سلو څخه زیات شهیدان وشول خو مولوي صاحب له خپل پروګرام څخه په شاه نشو. زما یادیږي چې موږ د میرانشاه بازار ته ووتو څومره د تابوتونو دوکانونه چې وو ټولو کې تابوتونه ختم شول موږ نشول کولای چې نور تابوتونه پیداکړو.

بیا موږ ملګري په شمالي وزیرستان کې د میرلي په نامه بازار ته ولیږل له هغه ځای څخه مو تابوتونه راوړل .مولوي صاحب یو داسي عجیبه خصلت درلوده چې داسې جنګونه به وو چې نه دریدونکې صحنه به وه خو پر شاه کیده به نه زموږ به چې د میاشتې کوم د کفنو او تابوتونو بیل راتلو هغه به مو په ډېر مشکل سره پوره کوو.

مولوي سنګین د دې وینو د هر څاڅکي تر شا داسې رڼا لیده چې د آزادۍ بوی ورڅخه راته.

هغه په غرونو کې جګړې کولې او په کلي کې یې له ماشومانو سره وړه ژبه ویله. واړه واړه د لوبو وسایل یې ورته راوړل او د مور او پلار سترګې یې په درناوي او خدمت یخې ساتلې.

هغه ته توندي او تریخوالی د مجبوریت انتخاب و او دا جبر د امریکایي یرغل تاریخ زیږولی و.




د مولوي سنګین خبرې : امریکا چې کله افغانستان ته راغله ټول مملکتونه یې له ځان سره ملګري کړل حتی اسلامي هیوادونه یې هم ځان سره ملګري کړل.په ډیر چل سره راغلل د دوی په ذهن کې هم دا نه تیریدل چې زموږ په خلاف به په افغانستان کې مقابله شروع کیږي.خو الحمدلله داسې په قدم قدم چې کله مجاهدینو د دوی مقابله شروع کړه اوس یې حالات دغه ته ورسیدل چې دوی وایي چې موږ له افغانستان څخه وزو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو انشاالله د امریکایانو څومره ترتیب چې وو که هغه تبلیغاتي جنګ وو او که نظامي جنګ وو له ټولو سره یې مجاهدین بلد شول.

په دا څو کلونو کې یې دوی وپیژندل. هیڅکله د افغانستان خلک او د افغانستان ځمکه پردي یرغلګر نه قبلوي او نه یې قبول کړي دي او له مخکې څخه دا تاریخونه پراته دي.

روسان دا لنډ د بوش په وخت کې چې دلته موجود و دهغوی حالات یې لیدلي دي.چې ناکامي یې له ځان سره یوړه. اوس به امریکایان هم خامخا شکست خوري او دوی به تیښتې ته اړ کیږي.



مولوي عبدالله مختار په خپلو خبرو کې داسې وایي : مولوی سنګین به چې کله د یو کار اراده وکړله د خپلې ارادې د سرته رسولو لپاره به یې شکست نه قبول کوو.

هغه غوښتل چې خپل هدف ته د رسیدو لپاره هره ممکنه لاره چې موجوده وي ځان ورسوي.

خپل هدف ته د رسیدو لپاره به یی په هغه شته امکاناتو کار کوو چې له هغه سره موجود و. داسې یې نکول چې اضافي کومک وغواړي.

مولوي سنګین له نن څخه شل کاله وړاندې د الجزیرې سره په یوه مرکه کې د امریکایي وړاندوینو اندیښنې په خورا قاطعت سره ځوابولې.

خبریال پوښتنه ورڅخه وکړه چې که چیرته په افغانستان کې د طالبانو حکومت راغی بیا به دوی په عامو خلکو باندې ظلم او ستم شروع کړي او د ښځینه تعلیم په اړه به ممانعت ولږوي ددغه خبرو په مقابل کې تاسې څه نظر لری؟

مولوی صاحب یې په جواب کې داسې وایي : داخو د دوی دا فکر دی چې د اسلام په اړه د نا امنی فکر کوي. خو اسلام د امن دین دی او د امن درس ورکوي خلکو ته دا مخکې هم تیر شوي دي ټولې دنیا لیدلي دي او سترګې دې نه ورباندې پټې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن سبا تاسې دا وګورئ کنه چې په افغانستان کې د طالبانو د حکومت پرمهال ډېر امن و او که اوس امریکایان چې افغانستان ته راغلي دي امن دي .

موږ هیڅ د تعليم خلاف نه يو تعليم چې زموږ د مذهب په چوکاټ کې وي کوی يې شو او کوو به يې هم.

د پکتیکا د نکې ولسوالۍ په څیر په ټول افغانستان کې د امریکایانو بی باکه تالاشۍ،جنګي جنایتونه کول او مخفي يې ساتل. د امریکایي پالیسۍ جوړونکو له خوا د افغانانو سره د احتیاط نه کولو په پایله کې په افغانانو کې د خطري کيدو سيګنالونه په خوځښت راغلي و.

مولوي سنګين په خپله سيمه کې د همداسې صحنې ترخې کيسې نشواى هيرولاى. او ويل يې چې له موږ او تاسې څخه يې خپله منطقه نيولې ده او زموږ او تاسې خپل حکومتونه يې نيولي دي.

په پښتو کې زموږ او ستاسې دا اصول دي چې زموږ کورو ته پردي ننوزي خامخا به ورسره وژنو.

دا کافران د مسلمانانو کورو ته ننوزي او تالاشي کوي يې،د بشر دوستۍ چیغې وهي چې موږ بشردوست يو او بشر دوستي غواړو.ايا دا مسلمانان بشر دي که ندي بشر له مسلمانانو سره يې هر ډول ظلمونه روان کړي دي.زه تېر کال په نکه کې وم امریکایان په زرمت ولسوالۍ کې کورونو ته ننوتلي و،د میندو له غېږ.و يې ماشومان راشوکولي و،ماشومان او ميرمنې يې په سپيو خوړلې وي نو دا څه ډول بشردوستي ده.

په شدیدو جګړو کې کليوال ځکه د مولوي صاحب سره تر ځنګ ولاړ و چې دوی د کليوالو پر سر دريدلي و. د خپل ملت او ارزښتونو په مقابل کې يې د امریکا سره بدي داسې برخليک ګرځيدلی و چې نور يې يوازينۍ لار توندي وه.

هغه خلک هم توند شول چې په عادي حالت کې يې ډېرې اسانه خوشحالۍ زده وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مولوي سنګین هر ډول مجاهدین را ټول و. په میرانشاه کې یو شاعر آریانا وزیر خپله ټوله شاعري مولوي سنګین ته ځانګړې کړې وه.



دوستانو یو بیت به یې زه درته ولیکم.

ګرانه له تاسره چې نه یو بیا د چا سره یو.

ملا سنګینه موږ د تا سره یو.

مولوي سنګین په خپلو ملګرو د مهربانۍ ترڅنګ زیات غیرت هم کوو. او هغوی یې هم میړانې ته رابلل.

ځکه خو یې هغوی هم په رهبري هرې قربانۍ ته په مینه وزر غوړولي و.

مولوي احسان الله احسان د مولوي سنګین په اړه داسې وایي : یوه ورځ چې کله تعرض خلاص شو له هغه وروسته ملګرو واپسي کوله آسمان د جیټو له آوازونو څخه ډک و بعضې ملګري ونو ته ننوتل او بعضې د تیږو لاندې کیناستل. امریکایي جیټو مخې ته بمبار شروع کړ او د مولوي صاحب ملګري د بمبار شاته پاتې و.بیا په دغه وخت کې مولوي صاحب په مخابره له هر ملګري سره احوال نیوه او د حالت پوښتنه یې ورڅخه کوله نو آوازه وه چې دیوانه قاري صاحب شهید شوی ده. مولوي صاحب په مخابره کې غږ ورباندې وکړ چې دیوانه قاري صاحب چیرته یې؟

دیوانه قاری صاحب ورته وویل چې مولوي صاحب موږ خو محاصره شوي یو زموږ نه مخکې بمبار کیږي او موږ شاته پاتې یو.

مولوي صاحب ورته وویل چې لږ انتظار وکه نو مولوي صاحب له ځان سره راکټ را واخیسته او د غره سر ته ورته پورته شو. جیټې چې بیرته واپسي راوکړله د مولوي صاحب د ملګرو په سر یې دوره خوړله دغه وخت کې مولوي صاحب په جیټه د راکټ ډز وکړ.جیټه له هغه ځای څخه ورکه شوه نو مولوي صاحب ملګرو ته ډاډ ګیرنه ورکړه او ورته یې وویل چې راځئ څه تړلي خو یې نه یی اوس خو مې جیټه هم درته پکې واخیسته.

مولوي صاحب د مجاهدینو په حقوقو باور درلود او ډیر پکې محتاط و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ دمولوي صاحب کشر ورور یحی د مولوي صاحب شهید ورور چې عبدالوارث حیدري نومیده دهغه ناروغ زوی یې په شاه ورته راوړ ترڅو علاج وربانديې وکړي.او ورته یې وویل چې دا دوه شپې کیږي چې سیف الله دومره شدید مریض ده چې له جای څخه نشي پورته کیدای.او موږ په کورکې یوه روپۍ هم نلرو هیڅ د پیسو درک نه لګیږي.

په دغه وخت کې د مجاهدینو سهم راغلی و او مولوي صاحب لګیا و د مجاهدینو سهم یې تقسیم کوو.

ډېرې پیسې پرتې وې دغه ځای کې. کله چې مولوي عمري ورته وویل چې ستا وراره داسې مریض ده او پیسې هم نشته نو مولوي صاحب خپل مخې جیب ته لاس کړ چې ویې لیدل هیڅ پیسې نه وې ورسره.

نو عمري ته یې وویل چې لاړشه بازار کې یو چا څخه قرض واخله او ور یې کړه.

عمري صاحب ورته وویل چې مولوي صاحب دا مخې ته دې دومره ډېرې پیسې پرتې دي خو له دغه روپیو څخه یې راکه دومره زیاته خرچه نه وربانديې کیږي.

نو مولوي سنګین ورته وویل چې عمري صاحب د کور پیسې نه لرم دا خو د مجاهدینو د بیت المال پیسې دي. که له دغو پیسو څخه زه پیسې درکړم او بیا یې پوره هم کړم نو بیا د مجاهدینو د روپیو لوټونه (کاغذونه) بدلیږي. نو دا لوټ یې چې بدل شي دا په خیانت کې راځي. له یو بل ځای څخه پیسې ورته پیدا که نو عمرې صاحب بیا په بازار کې له یو دوکان څخه قرض واخیسته او ماشوم یې د علاج لپاره شفاخانې ته ولیږه او علاج یې وشو.



مولوي صاحب یو وخت په یوه جګړه کې عسکر ونیوه وروسته هغه عسکر ډېر بدل شو چې آن تصور یې هم اسانه نده.

مولوي صاحب په مولوي وردګ بانديې غږ وکړ چې دا عسکر واخله چې څوک زیان ورته ونه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو عسکر يې واخيسته او د حافظ محب الله تبسم مرکز ته يې ولیږه او ورته ويې ويل چې دا عسکر درڅخه خفه نشي.

دا عسکر له دوی سره يوکال بندي و خو نه يی بندي خانې ته اچولی و او نه يې سختي ورسه کوله هغه عسکر به هم په عام ډول له مجاهدينو سره ګرځيده کله کله به يی له مجاهدينو سره کلاشنکوفونه واخيستل او په لاره به هم ورسره روان و.

يوه ورځ کسان کم وو نو هماغه عسکر توپک راواخيسته او په دروازه باندې ودريده.ځينو کسانو به حافظ محب الله ته دا خبره هم کوله چې په دغه عسکر موږ څنګه اعتبار وکړو.نو حافظ صاحب به ورته ويل چې په دغه عسکر مو اعتبار شته انشاالله.

يو کال وروسته مولوی سنګين هغه آزاد او د لارې خرچه يې هم ورکړه ويې لیږه. يوه مياشت وروسته عسکر بيا راغی او مولوي صاحب ته يې وويل چې زه خو جهاد کول غواړم مولوي صاحب ورته وويل چې سمه ده.

مولوي سنګين د امريکايي یر غل په ابتدا کې جګړه شروع کړه،په ميرانشاه کې يې خلک له ظلم څخه وژغورل او بيا يې مخه د جنوب ختيځ افغانستان ولايتونو او ولسواليو ته شوه.

د خوست  د شينکۍ له پوستو رانيولي بيا د پکتيکا د زیږوک تر کمپ او ګيان ولسوالۍ او نورو سيمو يې جګړې وکړې د لر او بر له خلکو سره يې رويه يوشان او په اصولو او مينه ولاړه وه.

برګډال يې په کورکې وساته او سختې شپې او ورځې يې ورسره تېرې کړې د خليفه سراجالدين حقاني تر قومانده لاندې دغه جنګيالي د اطاعت مهارت درلود.

يوه ورځ يې ورور حافظ بلال خپلې مور ته ورغی او د مولوي صاحب په اړه يې يوه اندېښمنه خبره ورته وکړله.

يوه ورځ مولوي صاحب ته حافظ بلال وويل چې مولوي صاحب نن ورځ ته مه راوزه حالات ډېر خراب دي طيارې ډېرې ګرځي داسې نه چې شهيد دې کړي. مولوي صاحب په موسکا کې ورته وويل چې نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ورځ په حافظ بلال ډېره خرابه وه طبيعت يې ډېر خراب و ځکه چې مولوي صاحب وتلی و او ډېره اندېښنه يی وه ورته.

په دغه ورځ حافظ صاحب د فدايانو له مرکز څخه وختي راغي کورته او کور کې يې مور ته وويل چې مولوي صاحب خو به نه وي راغلی؟

مور يې ورته وويل چې زمنه دومره وخت کې دې پوښتنه نه کوله وربانديې اطميناني وي که څه وجه وه نن دې پوښتنه وکړله چې مولوي صاحب خو به نه وي راغلي.

حافظ صاحب ورته وويل چې نن زه ډېر په زړه کې وربانديې ډاريږم طياري ډېرې ګرځي داسې نه چې شهيد يې نکړي.

مور يې ورته وويل چې وسواس مکوه را به شي هره شپه ماسخوتن ناوخته راځي.

حافظ صاحب ويده شو تقريبا د شپې يوه بجه وه چې مورکۍ يې هغه له خوب څخه راويښ کړ او ورته ويې ويل چې پورته شه باندې يو ميلمه راغلی ده غواړي دې دروازه ټکوې د عمري په نوم ده.

کله چې حافظ صاحب ور روان شو مورکۍ يې هم تر شاه روانه وه او ورته ويې ويل چې وارخطا نشې سنګين دی. نو حافظ صاحب هم پوی شو چې مولوي سنګين يې شهيد کړی دی.

د ۲۰۱۳م کال د سپتمبر ۱۵ نېټه مولوي سنګين سره له ملګرو د مولوي موسی خان په ميلمستون کې ويده شول او بيا د شپې امريکايي الوتکې له دغه خاورين کورڅخه ګردونه پورته کړل.

ملا رحيم الله عمري سره له نورو ملګرو په ميلمستون کي ويده وو.

دشپې يوه بجه د عمري همسايه غږ کوي چې عمري عمري نو يو ملګری راويښ شو او عمري يې را ويښ کړ چې کله ورغی همسايه په ديوال راولاړ و او ويې ويل چې د خليفه صاحب د رابطو له جملې څخه يو رابط دی چې ډېره مهمه مسله ده يوارې دې خپله مخابره خلاصه که.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې عمري مخابره خلاصه کړه ملګري یې ورته وویل چې خصوصي شمارې ته لاړشه کله چې خصوصي شمارې ته لاړ نو ورته ویې ویل چې د مولوي ګل موسی نصرت په کور ډرون حمله شوې ده ته خبر یې؟

عمري وویل زه خو نه یم خبر زه ویده وم اوس راویښ شوم.

ویل یې چې ته یې معلومات وکه چې مولوي صاحب خو به هغلته نه وي تللی؟

عمري صاحب د قومي مشر په یو سیټه ډاکسن کې له کور څخه ووت په لاره کې د زخمیانو موټر په مخه ورغی هغه کې د مولوي صاحب سنګين ملګری عارف الله مجنون وو کله یې چې ولیده په خاورو

لړلی وو او دشناخت نه و مجنون ته یې وویل چې څه چل دی تاسو یی؟ مجنون وویل چې هو موږ یو.

عمري صاحب ورته وویل چې مکمل تباه یو که نیم تباه یو؟

مجنون جواب ورکړ چې مکمل تباه یو.

عمري صاحب وویل چې آیا مولوي صاحب سنګين شهید شوی ده؟



مجنون وویل چې هو شهید شوی ده.

بلاخره مولوي صاحب سنګين د دیارلس کاله جهاد څخه وروسته د شهادت ستر مقام ته ورسیده.

د مولوي صاحب سنګين جنازې ته خلیفه صاحب سراج الدین حقاني هم په داسې وخت کې ځان ورساوه چې تر سخت ځار لاندې وو.

د خپل غښتلي قوماندان د کټ پر سر ودریده او بیا یې له ډېره وخته ساتلي اوښکې راماتې شوې.

مولوی صاحب سنګين داسې شخصیت و چې هرڅومره خطرات خلیفه صاحب سراج الدین حقاني ته موجود وو هغه یې شاته واچول او دمولوي صاحب شجاعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او قرباني هغه مجبور کړاو ویې ویل چې دا زموږ اخري دیدن دی په دنیا کې بیا هیڅکله نشو سره لیدلای او ځان یې تر جنازې ور ورساوه.

چاره نه وه بیرته یې ملګري ډاډمن کړل او جنازه د شهید مولوی صاحب سنګین کورته ولیږدول شوه.

انالله واناالیه راجعون

هغه چې وایي د باز ځاله له باز څخه نه خالي کیږي هماغسې وشول ملګرو یې د روحیی د ثبات لپاره ورور حافظ بلال دهغه پرځای وټاکه او د مورال د راستنېدلو په خاطر یې زر بل برید وکړ.



اسامه احمدزی



بلال احمد ساحل

**د لیکوال په اړه**

دا کتاب د اسامه احمدزي له خوا، د خپل نږدې ملګري (بلال احمد ساحل) په همکارۍ او تشویق لیکل شوی دی. دواړو هڅه کړې چې د یوه قهرمان د ژوندانه داستان له ریښتینې احساس سره بیان کړي، څو د هېواد د اتلانو قربانۍ هېرې نشي.

اسامه احمدزی، چې دا مهال محصل دی، د لیکوالۍ سره ځانګړې مینه لري او دا اثر یې د خپل احساس، هڅو او فکرونو نتیجه ګڼي. هیله ده دا لومړنی کار د لوستونکو خوښ شي او د راتلونکو هڅو بنسټ وګرځي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**